UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتیژیکو اړیکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی اعلامیه
http://unama.unmissions.org

**سره له دی چې ۲۰۱۲ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ملکي مرګ ژوبله راکم شوي ده خو وسلواله شخړه لاهم د ملکی وګړو د ژوند لپاره تباهی رامنځ ته کوي (د ملګرو ملتونو راپور)**

**کابل / جنیوا ، ۲۰۱۲ کال د اګست ۸ مه** – د ۲۰۱۲ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې وسلوالي تاوتریخوالي په دوامداره ډول ډیره ملکي مرګ ژوبله رامنځته کړي ده؛ په افغانستان کی دملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) په جګړه کې د ملکي کسانو د خوندي ساتنې په اړه د ۲۰۱۲ کال په شپږ میاشتنې راپور د خپریدو پر مهال نن وویل.

د ۲۰۱۲ کال د جنوري د لومړۍ نېټې څخه بیا د جون تر ۳۰ می پورې د وسلوالی تاوتریخوالي په پایله کې ۳،۰۹۹ ملکي مرګ ژوبله رامنځته شوي ده -- چې له دې جملې څخه ۱،۱۴۵ ملکي کسان وژل شوي او ۱،۹۵۴ نور ژوبل شوي دي-- چې ټولټال ملکي مرګ ژوبله د ۲۰۱۱ کال د ورته مودی په پرتله ۱۵ سلنه ټیټوالي ښیې [په ۲۰۱۱ کال کې یوناما ۳،۶۵۴ ملکي تلفات ثبت کړي دي ( ۱،۵۱۰ وژل شوي او ۲،۱۴۴ ژوبل شوي). د ۳،۰۹۹ ملکي مرګ ژوبلې له جملی څخه ۹۲۵ یې ښځې او ماشومان دي چی د ټولټال ملکي تلفاتو ۳۰ سلنه تشکیلوي.

په افغانستان کې د ملګروملتونود سر منشي د ځانګړی استازی مرستیال نیکولاس هیسَم وویل، "ملګري ملتونه د ملکي وګړو په مرګ ژوبله کې کمښت د ستاینې وړ بولي ولی باید په یاد ولرو چې افغان ماشومان، ښځې او سړی په دوامداره ډول په ویرونکې کچه وژل کیږي او ټپی کیږي او په دی راپور کی ثبت شوي ۳،۰۹۹ ملکي تلفات هغه عادي افغانان وو چې د وسلوالې شخړې په منځ کې یې خپل ورځنې ژوند پر مخ بېولو هڅې کولې."

هیسَم وویل " زه په شخړه کی په ښکېلو خواو غږ کوم چې د ملکي وګړو د ژغورنې او زیانمنیدود مخنیوي په موخه دی خپلې هڅې لا پسې ډیری کړي او د انساني ژوند سپیڅلتیا ته دی درناوې وکړي."

د دولت ضد وسلوالو عناصرو د ملکي تلفاتو ۸۰ سلنه مسؤلیت په غاړه لري چې د ۲۰۱۲کال په لومړۍ شپږو میاشتو کی یې ۸۸۲ ملکیان وژلي او ۱،۵۹۳ نور یې ټپیان کړي دي؛ چې د ۲۰۱۱ کال د لومړیو شپږو میاشتو په پرتله ۱۵ سلنه ټیټوالي ښیې .

یوناما د کال په لومړیو شپږو میاشتوکې د دولت پلوه ځواکونو په عملیاتو کی د ۱۶۵ ملکیانو مړینه او ۱۳۱ نورو ژوبلیدل ثبت کړي دي ـــ چې د ټولټال ملکي تلفاتو۱۰ سلنه تشکیلوي ـــ او د ۲۰۱۱ کال د ورته مودې په پرتله ۲۵ سلنه کمښت ښیې. د نور ۹۸ ملکیانو مړینه او ۲۳۰ ژوبلیدل چی د ټولټال ملکي تلفاتو ۱۰ سلنه تشکیلوي په جګړه کې ښکېل هیڅ یولوري ته ندي منسوب کړاې شوي.

ځای پر ځای شوي چاودېدونکي توکي تر ټولو زیات د ملکي وګړود مرګ ژوبلې لامل شوي دي. د جنوري د لومړۍ نیټې څخه د جون د میاشتی تر۳۰ نېټې پوری ځای پر ځای شوي چاودېدونکي توکي د ۳۳ سلنی ملکي تلفاتو لامل شوي دي ـــ چی ۳۲۷ ملکي کسان یې وژلي او ۶۸۹ نور یې ټپیان کړي دي. ځانمرګې او پیچلي بریدونه چې ځای پر ځای شوي چاودېدونکي توکي پکښی کارېږي، د دولت ضد عناصرو لخوا ټولټال ځای پر ځای شوو چاودېدونکو توکو استعمال په پایله کی په راپور کې د ثبت شوو ملکي تلفاتو ۵۳ سلنه جوړوی.

"د قرباني د تماس سره فعاليدونکي د چاودېدونکو توکو وسېلې غېر قانوني دي ، ځکه چې دا د ملکي اوجګړه مارو ترمنځ توپير نشي کولای،" ښاغلی هيسَم وويل " دی ناروا وسلې د شخړې پرمهال ترټولوډيرشمېرملکي افغانان وژلي يا ژوبل کړي دي او په طالبانو غږ کوم چې د دی کارول دی ودروي."

په ۲۰۱۲ کال کې د دولت ضد عناصرو لخوا د هدفي وژنو په پايله کې د ملکي وګړو تلفات ۵۳ سلنه ډيره شوي دي چې يوناما په ۲۳۷ بلا بيل پېښو کې د ۲۵۵ ملکيانو مړينه او ۱۰۱ نورو ژوبله ثبت کړی ده.
د کوم وخت راهيسې چې يوناما د ملکی وګړو تلفات ثبتول پيل کړي نو د نړيوالو ځواکونوهوايیعمليات د دولت پلوه ځواکونود بل هر تاکتيک په پرتله په دوامداره توګه د ډېر ملکي وګړود مرګ ژوبلې لامل ګرځېدلي دي. د جنوري د لومړی نيټې څخه د جون تر ۳۰ نېټې يوناما د نړيوالو نظامی ځواکونود هوايي بريدونو په پايله کی د ۸۳ ملکي وګړو مړينه او ۴۶ نورو ټپی کېدنه ثبت کړی ده.

آيساف د هوايي بريدونو پرمهال د ملکي تلفاتود مخنيوي لپاره قدومونه اخستلي ، د ۲۰۱۲ کال د جون ۶ نيټې په لوګرکې د هوايي بريد د جواب په شمول ، چې په پايله کې هغه مهال په غير متناسبه توګه ملکی خلکو ژوند د لاسه ورکړ. په دغه بريد کې ۱۸ ملکيان ووژل شول چې ډير شمير يې ښځې او ماشومان وو. وو.

د افغان امنيتي ځواکونواوآيساف د شپې چاپېزعملياتو په پايله کی ملکی تلفات د ۲۰۱۲ کال په لومړی شپږو مياشتو کی دوامداره کمښت ښيي چې د ۳۲ تلفاتو له جملې څخه يې ( ۲۰ وژل شوی او ۱۲ ټپيان شوی دي ) چې د ا د ۲۰۱۱ کال د ورته موديٍ په پرتله ۲۷ سلنه ټيټوالي په ګوته کوي.

که څه هم زياتو ټولنو رپيوټ ورکړی دی چې په هغو سيموکې امنيتی حالت ښه شوی چيرته چې سيمه يز پوليس شتون لري؛ خو ځينو سيمه يزو خلکو انديښنه په ډاګه کړي ده چې په ځينو ولسواليو کې د بشری حقونو څخه تېری کوونکي د سيمه يزو پوليسو په ليکو کې ګمارل شوي دي. او همدارنګه د سيمه ايزو پوليسو په ګمارنه، چاڼ کونه، کنترول او رهبری، حساب ورکونه او د نظارت په ميکانيزمونو کې د ضعف ټکي شتون لري. يوناما د ملکيانو په وړاندی د ټول هيواد په کچه په اوو ولايتونو کې د بشری حقونو څخه تېري ثبت کړي دي؛ او همدارنګه هغه سيمه ايز پوليس چې په تير او اوس کې د بشری حقونو څخه په تېريو تورن دي تر عدلی تعقيب او تحقيق لاندی ندي نيول شوي.

ناوي پيلا د بشری حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کميشنری د دی په اهميت تأکيد کړی دی چې د بشری حقونو څخه تېري کوونکي بايد حساب ورکولو ته اړ ايستل شي تر څو د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې کچه را ټيټه شي.

هغې وويل، "د بشری حقونو له تېريو څخه معافيت يواځې مرتکبينو ته جرأت ورکوي". تېري بايد په قانونی توګه تحقيق شي، مرتکبين عدالت ته راکاږل شي او د قربانيانو زيانونه جبران شي. د تېري کوونکو سره حساب کتاب د افغان ښځو، سړو او ماشومانو د خونديتوب د ښه والی لپاره يو ډير مهم ګام دی".

لکه څنګه چې په راپور کې ذکر شوي دي د ښوونځيو په وړاندی بريدونه زيات شوي دي او د طالبانو مداخله د سيمه يزو ښوونځيو په اداره کولو کې د ماشومانو، په ځانګړی توګه نجونو لاسرسی تعليم ته اغيزمن کړی دی. يوناما د ۲۰۱۲ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې ۳۴ پيښې مستندې کړې دي چې په هغو کې د ښوونځيو سوځول، د معلمينو او ذده کونکو هدفی وژني، د معلمينو او د ښوونځيو مامورينو ته ګواښونه، په تعليمی مرکزونو باندی وسلوال بريدونه، د ښوونځيو نيونه او بندول (په ځانګړي توګه د نجونو ښوونځي) راځی. د يوناما د بشری حقونو د ځانګې سرپرست رئيس جميز روډهاور وويل " دا زښته ډيره د انديښني وړ ده چې د ښوونځيو په وړاندی بريدونه په حيرانونکی ډول زيات شوي دي. دغه بريدونه نه يواځی ماشومان د زيان اړولو په خطره کې اچوي بلکې د دوی لاسرسی تعليم ته کوم چې يو اساسی بشری حق دی اغيزمن کوي."

يوناما د ۹۹ هغو ولسواليو له سيمه ايزو اوسيدونکو سره مرکې وکړي چيرته چې د دولت ضد عناصر په زياتيدونکی ډول نفوذ او کنترول لري. د دغو مرکو نه موخه دا وه ترڅو د بشری حقونو د ساتنی حالت په دغو سيمو کې و ارزل شي. سيمه ايزو خلکو يوشان بيانونه ورکړي دي چې د دولت ضد عناصرو په دغو سيمو کې موازی قضايي جوړښتونو را منځته کړي دي، او له معافيت سره يې د بشری حقونو څخه تېري تر سره کړي دي.د بشری حقونو په دغو تېريو کې وژني، د

وجود د یوه غړی پریکونه، تښتونه او وهل ټکول راځی. طالب چارواکو هغه سیمه ایز خلک چې د حکومت په ملاتړ تورن دي ګواښلي، ویرولي او تښتولي دي؛ او په ډیرو ټولنو یې غیری قانونی مالیات وضع کړي دي. همدارنګه د دولت ضد عناصرو په ځینو سیمو کې صحی اسانتیاوو ته لاسرسی محدود کړی دی؛ او د پولیو د واکسناسیون او د پوهی د لوړولو کمپاینونه یې بند کړي دي.

روډهاور وویل " موثر اقدامات تر څو د ملکیانو ساتنه زیاته شي د دی ایجاب کوي چې نه یوازې د ملکیانو مرګ ژوبله راکمه شي بلکې معافیت ته باید د پای ټکی کیښودل شي. د بشری حقونو د سختو تېرېو حساب ورکونه او د افغان ښځو، سړو او ماشومانو خوندیتوب، او د دوی د بشری حقونو ساتنه باید د انتقال د پروسی د کامیابۍ او د جګړې د ښکیلو خوا لومړنی اندیښنه وي."

---

په وسلواله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنی په اړه د یوناما د ۲۰۱۲ کال شپږ میاشتنۍ راپور څخه د افغان ملکیانو انتخاب شوي بیانونه:

*زما مېرمنه، زموږ څلور ماشومان، زما د ورور مېرمنه او د هغې دوه ماشومان د ولسوالی د دفتر مخته په تمه وو ترڅو د تابعیت تذکره واخلو. له خپلې میرمنې څخه مې وغوښتل چې دروازي ته لنده پاته شي او زه دفتر ته د ننه لاړم چې وګورم د احصایي مامورین کار ته راغلي دي. د یوی زوروری چاودنې غږ می واورېد او بیرته مې د دروازی خواته منده کړه. خلک مې ولیدل چې په وینو کې پر ځمکه پراته وو. ما ولیدل چې زما یوه لور وژل شوې او زما دوه نورې لوڼې او مور یې ټپیانې دي. پولیسو مرسته وکړه چې زما لوڼې او مېرمنه په موټر کې واچوم او روغتون ته یې ورسوم.*

■ **د ۲۰۱۲ کال د اپریل د میاشتی په لسمه د هرات په ولایت کې د دوو نجونو پلار د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په یوه برید کې ووژل شو.**

*زه د سپوږمۍ هوټل په سرای کې له خپل کا کا سره وم. نږدې د شپې یولس بجې وې. هغه له مانه وغوښتل چې له موټر څخه کامره را وخلم او میلمستیا ثبت کړم. زه موټر ته ورغلم دا هغه وخت وو چې ما ډزې واورېدې. ما یو وسلوال ولید چې په خلکو یې بې هدفه ډزې کولې؛ ما هغه ولید چې د ځوانانو په یو ډله چې سندرې یې ویلې او خوښې یې کوله ډزې کوې. د دوی نه ځینې ځای په ځای ونه وژل شول؛ ټپیانو د مرستې لپاره چغې وهلې. وسلوال کس بیرته راغې او هر یو یې په سر سر و ویشتل. هغه ټول ووژل. ما ولیدل چې دوی څنګه زما کاکا ووژل؛ دوی هغه په سر وویشتل او د هغه د سر ماغذه بهر را ووتل. تاسي پوهېږئ؛ هغه کمه موده مخکې له ایران څخه راستون شوې وو تر څو خپله زړه مور ووینې. دوی هغه ووژل. دوی د هوټل شاخوا سرای ته لاړل او ودانۍ ته ننوتل تر څو خلک ولټوي او ویې وژنې.*

■ **له برید څخه یو ژوندی پاته شوې کس؛ د ۲۰۱۲ کال د جون د ۱۵ نیټي پیچلی یا کمپلیکس برید چې د کابل ولایت، قرغی بند د سپوږمیۍ هوټل کې ترسره شو.**

*یوه ورځ یوه ساتونکي له خپل ملګری سره د مخابری له لاری اړیکه ونیوله. له غار څخه یې زه کروندی ته بوتلم او تصمیم یې ونیول ترڅو له ما سره لوبې وکړي. ما ۵۰ یا ۶۰ وسلوال ولیدل. دوی بیرته زما سترګې را وتړلې. دوی غوښتل چې ما حلال کړی؛ یو چا زما په غاړه چاړه کیښودله. ورسته یوبل کس مداخله وکړه او دوی ته یې وویل چې دا کس زوړ دی او باید حلال نشي بلکې یولاس یې غوڅ شي. بیا دوی زه په زوره واخستم او یو کس ته یې وویل چې زما ښې لاس وتړی. هغه زما مړوندونه په دوو رسیېو را وتړل. ورسته هغوی په یوه چاړه زما لاس اول د بند له پاسه او بیا لاندی خوا څخه غوڅ کړ. بیا یې زما لاس د بند له هډوکی څخه په زوره جلا کړ. کله چې دوی زما د لاس لاندی خوا غوڅوله نو ډیر درد یې کاوه خو ما چیغی ندی وهلې؛ ځکه چې زه یو نارینه یم.*

■ **یو قربانی چې لاس یې د طالبانو لخوا د ۲۰۱۲ کال د اپریل په میاشت کې غوڅ شو**

*د شپې په یوه بجه ما د جنګي الوتکو او هلیکوپټرو او ورسته زمونږ په کلی کې د بی شمیره چاودنو غږونه واوریدل. کله چې الوتکې او هلیکوپټرې لاړې نو زه د باندی را ووتم او می لیدل چې زما د کاکا د ځوی کور په بشپړ ډول ویجاړ شوی دی. ما چیغی کړلی او د کور په خوا مې منډه کړه او د ژوندی پاته شویو کسانو لپاره مې پلټنه پیل کړه. په دوهمه خونه کې مې په خښتو وینې ولیدلې او زما د کاکا د ځوی څلور کلنه لور زرغونه مې د ډبرو په ټوټو کې پیدا کړه. هغه وژل شوې وه. ټول کلیوال راغلل ترڅو د ژوندیو پاته شویو کسانو د پلټولو لپاره مرسته وکړي. مونږ د دریمی خونی د ډبرو له ټوټو څخه زما د کاکا د ځوی نهه کلن ځوی پیدا کړ. چاودنی د هغه*

*سر له تنی څخه بیل کړي وو. ټولو خلکو چیغې او ناري وهلې. ورسته مونږ د هغه د مور مړي د هغه څنګه ته پیدا کړ. د هغې مخ په بشپړ ډول له منځه تللی وو. زه نشم کولای نور څه ووایم.*

- **د لوګر ولایت برکی برک په ولسوالی کې د جون د شپږمی نیټی د هوایي برید د ۱۸ وژل شویو ملکیانو یو تن خپلوان**

د یوناما د ۲۰۱۲ کال شپږ میاشتنی راپور د ملکیانو د ساتنی بنه والی لپاره لاندی سپارښتني کوي:

**دولت ضد عناصرو ته**

- د بشرپالني د نړیوال قانون د اوصولو سره سم د تفکیک ، تناسب او احتیاطی تدابیر په پام کې نیول؛ او د ملکي خلکو تعریف دي د بشرپالني د نړیوال قانون سره په مطابقت کې پلی کړي .
- د نړیوالو قانون سره سم دي د ملکي خلکو هدفی وژنی ودروي او هغه فرمانونه چې د ملکي خلکو د وژنی جواز ورکوي (د بیلګی په ډول ځان مرګي بریدونو) کارونه دي ملغا اعلان کړي .
- د فشار په ذریعه چاودیدونکو توکو کارونه دی ژر تر ژره ودروي او د دي بی توپیره او غیر قانونی وسلو پر کارونه دي په عمومی ډول د بندیز ژمنه وکړي.
- د هغو موازي قضایي جوړښتونو څخه ډډه کول چې غېږي قانوني سزاګانې ټاکي لکه وژني، د وجود د یوه غړي پریکونه، شل شوټ کول او وهل ډبلول. هغه طرزالعملونه، هدایات او لارښووني دي په عمل کې پلی کړی چې د ملکي خلکو د وژنی څخه مخنیوې کوي؛ او هغه افراد چې ملکي کسان د مرګ ژوبلی په موخه هدف ګرزوی ورسره حساب وشي .

- د بشری مرستو مؤسسو ته او په ځانګړی ډول څوک چې روغتیایی خدمتونه ، کلینکونه او ډاکټران د ټولنی د معالجی لپاره وړاندی کوي د پوره لاس رسي اجازه ورکړي . د واکسناسیون کمپاین د ملاتړ په موخه دي څرګنده ژمنه وکړي ترڅو د واکسین ټیمونه وکړای شي چې د واکسناسیون خوندی کمپاین په ټول افغانستان کې په بشپړ ډول تر سره کړي.

**د افغانستان دولت ته**

- د قانون د واکمنی د ادارو په ځانګړي توګه پولیس اوقضایه قووی د پیاوړتیا لپاره دي نور کوټلي ګامونه واخلي چې له مخی یې جنایي کړنو سره د دولتي ادارو لخوا د قانون سره سم چلند وشي. په دی کې څیړني، عدلی تعقیب او د هغو کسانو په سزارسول شامل دي چې د موازي قضایي جوړښتونو له لاری غیر قانونی سزاګانې ټاکي. په ځانګړي توګه وژني، د بشری حقونو څخه سرغړوني او نور جنایي فعالیتونه چې د دولت ضد عناصر یی تر سره کوی.
- افغان ملی اردو دي د ایساف په څیر د ملکي کسانو د تلفاتو د کمیدو ټیم رامنځ ته کړی چې افغان امنیتی ځواکونو ته منسوب د ملکي تلفاتو ټولې پېښې پر وخت ، شفافه او سم ډول و پلټل او ثبت شي. ترڅو د ملکي خلکو خوندی ساتنه ، د خساری جبران او د حساب ورکړه وده ومومی.
- د ټولو ماشومانو او په ځانګړي ډول دي د نجونو حقونه خوندي شي ترڅو زده کړی ته لاس رسي ولري . داسی لاري چاري دي اختیار شي چې د ښوونځیو ودانۍ خوندي او پرانیستي وي او هم د ښوونځیو ملکي موقف خوندي وساتل شي او د نظامی فعالیتونو لپاره ونه کارول شي. د ښوونځیو تدریسی نصاب کې دي د بشری حقونواساسات منعکس شي کوم چې د افغانستان په قوانینو کې تضمین شوي او متن یی د پوهنی وزارت تأید کړی دی .

- د دی لپاره چې د بشری حقونو له سرغړونو څخه مخنیوی وشي دا ډاډ باید ترلاسه شي چې د سیمه اېزو پولیسو د نورو کارونو ترڅنګ ګمارنه، ازموینه، نظارت او حساب ورکوني میکانیزم په موثره توګه ترسره کېږی. د نړیوالو نظامي ځواکونو په ملاتړ باید د سیمه اېزو پولیسو هغو جنایتونه په وړاندي چې راپور یې ورکړل شوي دی قانونی کړني ترسره شي. او هرڅومره ژر چې کیدایشي د سیمه اېزي (محلي) دفاع نوری قواوي لغوه شي.

## نړیوال نظامي ځواکونه

- په دوامداره توګه د تاکتیکي لارښودنو او عملیاتي پروسیجرونو په ځانګړي توګه هغه تاکتیکي لارښودني چې هوایي بریدونه تنظمیوي بیا کتنه تر سره کړي ترڅو د ملکي خلکو له غېرى اختیاري مرګ ژوبلي او ملکي شیانو ته د زیان اړولو نور مخنیوي وشي؛ او د جګړې ملکی قربانیانو ته تاوان ورکړي . د عملیاتو ورسته باید د افغان حکومت سره په همکارۍ د هغو عملیاتو چې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلي لامل شوي دي تحقیقاتو ته ادامه ورکړي.

- شفافیت او حساب ورکوني ته وده ورکول او د افغان حکومت او متاثره شویو ملکي خلکو او ټولنو سره د ښه روابطو جوړول، او په هغو پیښو کې چې د ملکي خلکو مرګ ژوبله یې را منځته کړي د ایساف د پلټنو د موندنو خپرول، انظباطي او حساب ورکوني اقدامات ترسره کول او په منظمه توګه د اوښتی زیان جبیره کول او اصلاح کول.
- د افغان ملي امنیتي ځواکونو سره کار کول تر څو د ملکي کسانو د مرګ ژوبلي د کمښت، راپور ورکولو او تحلیل کې د هغوي قابلیت لوړه شي، او د افغان ملی امنیتي ځواکونو کې [د ملکي مرګ ژوبلي د کمولو ډله] (Civilian Casualty Mitigation Team) د رامنځته کول ملاتړ کول.
- د دي ډاډه کول چې افغان ملي امینتي ځواکونه په پوره اندازي سره منابع به لاس کې لري، مجهز او روزل شوي دي تر څو په موثره توګه د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په ضد عملیات رهبری او کنترول کړي، او ځای پر ځای شوي چاودیدونکی توکي خنثی او په کار واچوي. [1]
- د دي ډاډه کول چې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د تاکتیکي لارښودنو په اړه پوره روزنه ورکول کېږي او تاکتیکي لارښودونه، پروسیجرونه او د غوره کړنو بیلګې چې د ملکي مرګ ژوبلي په کمولو کې موثر بلل شوي دي افغان ملي امنیتي ځواکونو ته سپارل کېږي.

[1] د ځای پر ځای شویو چاودیدنکو توکو په کار اچونه د هغو معلوماتو تشخیص، راټول، پروسس او خپرول دي چې د ځای پر ځای شویو چاویدنکو توکو د پیښې له ځاي څخه راټول شوي دي تر څو د عمل وړ استخباراتي معلومات تر لاسه شي، د ځای پرځای شویو چاودیدنکو ضد پروسیجرونه او میتودنه غښتلی او د اړیکو منابع کمزوری او د دوی عدلی تعقیب ملاتړ وشي. په دي کې د ځای پر ځای شویو چاودیدنکو توکو ساتنه، د مختلفو برخو تشخیصونه د تخنیکی، عدلی طب او بایومتریک ازموینی او تحیلی لپاره راځي چې د متخصیصانو له لوری تر سره کیږي. د چاودیدنکو توکو په کار اچونه د د دغو توکو ضد اقداماتو یوه اساسی برخه ده.


له ۲۰۱۰ کال څخه تر ۲۰۱۲ کال پورې (له جنورۍ څخه بیا تر جون پورې ـــ د کال لومړۍ شپږ میاشتې) د ملکي خلکو مرګ ژوبله د مرتکبینو په اساس
د دولت ضد عناصر
دولت پلوه ځواکونه
نامعلوم لورې
3500
3000
2500
2000
1500
1000
500
0
2413
386
426
2927
393
334
2475
296
328
2010
2011
2012


له ۲۰۰۷ کال څخه تر ۲۰۱۲ کال پورې (له جنورۍ څخه بیا تر جون پورې ـــ د کال لومړۍ شپږ میاشتې) د ملکي خلکو وژنې د کلونو په اساس
1600
1400
1200
1000
800
600
400
200
0
684
818
1054
1267
1462
1145
2007
2008
2009
2010
2011
2012

---